**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

**د برېتانيي د ملکې پر مرګ د مسلمانانو د واکمنانو ماتم غربي استعمار ته د دوی ژمنتيا ښيي**

د پاکستان لومړي وزير شهباز شريف د ۲۰۲۲م کال، د سپټمبر په ۸مه، پر خپله رسمي ټويټر پاڼه ليکلي وو: «د ملکې اليزابت دويمې پر مړينه سخت خواشينی شوم. پاکستان له انګلستان او نورو مشترک المنافع هېوادونو سره د هغې د مړينې په غم کې ځان شريک بولي». د اسلامي نړۍ واکمنانو؛ عربو او عجمو د برېتانيي د ملکې پر مړينه داسې خواشيني وښوده، چې ته به وايې يو عادل او زړه سوانده خليفه يې مړ وي. وړاندې له دې چې مسلمانان د داسې واکمنانو په غم کې ځان شريک کړي، بايد د برېتانوي اشرافو او د برېتانيي شاهي کورنۍ حقيقت په غور وکتل شي.

همدا د برېتانيي اشراف دي چې په پرلپسې د برېتانوي نفوذ د پراخو شبکو له لارې د استعماري ځواک چارې پر مخ وړي. د دغو اشرافو نفوذ د برېتانيي دولت له هغو اسنادو ډېر دی چې د کابينې دفتر د وکيلانو له لوري چمتو شوي دي او دا په ګوته کوي چې پارلماني لايحې د شاهي کورنۍ د لوړ پوړو واکمنانو تابع دي او دوی د نويو قوانينو د رد او تاييد صلاحيت لري. د برېتانيي اشراف د داعيانو مجلس، د عوامو مجلس، د کابينې دفتر، د انګلستان کليسا، لندن ښار، انګلستان دولت، پټو استخباراتي خدمتونه (MI6)، سنډهرست او آکسبريج پلټ فارمونو له لارې خپل نفوذ ساتي.

برېتانوي اشراف د استعماري اقتصادي نظام له جوړوونکو سره، چې د نړۍ ډېره برخه يې په سختو پورونو کې ډوبه کړې ده، مرسته کوي چې غربي پانګوال په پورونو کې د سود له ورکړې څخه ګټه پورته کړي. د دې صنعت مشران د خليج سيمې په ګډون د اسلامي نړۍ له بډايه زېرمو څخه ګټه پورته کوي؛ د حسادت له امله يې د صنعتي پرمختګ پر وړاندې خنډ ګرځي، استخبارات يې اسلامي امت ته خنډونه جوړوي او د سنډهرست او اکسبريج په څېر ادارو کې له ګمارل شوو سياسي او نظامي اجنټانو څخه ګټه پورته کوي. په حقيقت کې دا اجنټان د عرب لارنس ډرامې په څېر خپل کارونه پر مخ وړي، چې په لرې پرتو سيمو کې د تاج او تخت د ترلاسه کولو لپاره له ځايي خلکو سره کار کوي.

د پاکستان واکمنان داسې خبرې کوي، چې ته به وايې د هند په نيمه وچه کې نه، بلکې په وينزر ماڼۍ کې اوسېږي؛ د هند نيمه وچه له درېيو پېړيو راهيسې د برېتانوي اشرافو د جنايتونو صحنه ده. د برېتانيا له استعمار وړاندې د اسلام تر واکمنۍ لاندې د هند نيمې وچې د نړۍ د اقتصاد ۲۳٪ برخه جوړوله، دا کچه له ټولې اروپا سره برابره وه. دا شمېره په ۱۷۰۰م کال کې د اورنګ زېب عالمګير د واکمنۍ پر مهال، ۲۷٪ ته ورسېده؛ خو د برېتانيي له اشغال وروسته تر ۴٪ ټيټه شوه او سلګونه زره کسان له لوږې سره مخ شول. انګريزانو دا سيمه ۱۷۳ کاله لوټ کړه او د نن ورځې معادل ۴۵ ټريليونه ډالر يې ترې يوړل!

مسلمانان بايد د برېتانيي اشراف چې څنګه دي، هسې وپېژني او بيا يې دې د مرګ پر وړاندې غبرګون وښيي. اوسمهال برېتانيا په انحطاط کې ښکېل ده او دا د اسلامي نړۍ لپاره يو غوره فرصت دی چې د مشترک المنافع هېوادونو په ګډون د پوځي او اقتصادي دامونو او له برېتانيي سره د اړيکو له ځنځيرونو ځان خلاص کړي. مسلمانان بايد خپلو واکمنانو ته له ښکېلاک سره د مرسته کوونکو په سترګه وګوري او له دوی

سره په همدې ډول چلند وکړي. مسلمانان باید هڅه وکړي چې د نبوت پر منهج خلافت دولت بیا تاسیس کړي او نړۍ د امریکا او اروپا له ښکېلاک څخه وژغوري. هغه وخت به بیا نړۍ د جنګي جنایتکارانو او ظالمانو په مرګ خواخوږي نه ښیي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**(فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ)**

**ژباړه:** *«بیا پر هغوی نه اسمان وژړل او نه هم ځمکې»* [دخان: ۲۹]

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د صفر ۱۴مه**

**۲۰۲۲م کال، د سپټمبر ۱۰مه**

**د صدور ګڼه: ۰۶/ ۱۴۴۴**